
# د مرجانونو څانګې



ه . ا . زيار

# ډالۍ

میرمن پروین «خدیجې» ته
چې سرداري يې له پښتو ټنګ ټکوره
ځار کړه

# د مرجانونو
# ځانګې

( دیارلسم شعري غونډ )

م . ا . زیار

# لیکي پوهه


د کتاب نوم : د مرجانونو څانګې

وېناوال : پوهاند دوکتور مجاور احمد زیار

خپرندوی : د پښتو پانګې ملګري ، پېښور

ګڼه : ٦

اوډونکی : سید حسین هاشمي

چاپ شمیر : ٥٠٠ ټوکه

چاپځای : سرحد چاپخونه ، پېښور

انځورګر : عبدالحی پوپلزی

نېټه : وری ، ١٣٧٥ / اپریل ، ١٩٩٦


ک

# نیولیک


| سرلیک | مخګنه |
|---|---|
| ځان جهان | ۱ |
| څلورڅپیز غزل | ۳ |
| پنځڅپیز غزل | ٤ |
| دریڅپیز غزل | ٥ |
| دوه څپیز غزل | ٦ |
| د مینې کرونده | ۷ |
| بولله د حمزه پر غزله | ۹ |
| د ازمون پر دار | ۱۳ |
| د لمبو پر لمن | ۱٥ |
| لیمه لیمه | ۱۷ |
| د وینو نغمې | ۱۸ |
| د قافیې په قاب کې | ۲۰ |
| د مینې سجده ځای | ۲۲ |
| د شپې تابوت | ۲٤ |
| زما وروستۍ خبره | ۲٦ |
| لوټ | ۲۷ |
| بربنډه مینه | ۳۲ |
| د ښایست په صحیفو کې | ۳٤ |
| مسلمان بنده | ۳٦ |
| د وینو وینې | ۳۷ |
| وریښم ګوتې | ۳۹ |
| د خاموشۍ پر ژبه | ٤۱ |
| د ټیزو زړونه | ٤٤ |

| مخگڼه | سرلیک |
|---|---|
| ٤٦ | توکلي لاله زار |
| ٤٨ | د میني تاج |
| ٥٠ | ته مې په زړه کې یې تل |
| ٥٤ | جلوه‌لې کربلا |
| ٥٦ | د غزل باج |
| ٥٨ | د عاج مانۍ |
| ٦٠ | د ارمان هینداره |
| ٦٢ | دېرلیك |
| ٦٤ | د مرجانونو څانگې |
| ٦٦ | ژمن شعر |
| ٦٨ | د یادونو پر بستر |
| ٦٩ | د یزدان تر نامه لاندې |
| ٧١ | د ځمکې خدایان |
| ٧٣ | د میني منزلونه |
| ٧٥ | سرخیلي |
| ٧٧ | برنډ ښایست |
| ٧٩ | د لمر خدای دربار ته |
| ٨١ | د زخمونو نارنجستان |
| ٨٣ | لمرین تنابونه |
| ٨٥ | غبرگه سندره |
| ٨٨ | د وینې مینې رنگ |
| ٩٠ | د سرو لاره |
| ٩٢ | تلسپرلیه پینبوره ! |
| ٩٥ | د غني تلپاتې یاد |
| ٩٩ | د باغ د ناوکیو په لیمو کې |

ب

# مسلمان بنده

خدایه ! تا ربنتیا آزاد که هستولم
نو دې ولې زه « بنده » بیا نوملم ؟
راته بس دې دا یوه بنده ګي نه وه ،
چې لا بیا دې په « اسلام » تسلیمولم ؟
« مسلمان بنده » که وم ، خو همدا ستاوم ،
په ناپوه بنده دې نور څه بنکېلولم ؟
که تا داسې لاس پر نامنڅوای روږدلی ،
د غلام غلام به څه غلامولم ؟
په ربنتیا که ته ژغوراند د خپل بنده وای
نو ، بنده به د بنده څه څورولم ؟
چې پر بل جهان دې جوړ راته دوزخ کړ ،
نو دې ولې په اور دلې کړولم ؟

پټهاني - سوات ، ۲۸ - ۷ - ۹٤

## ځان - جهان

که ستا سترګې زما په سترګو کې غمیزې
زما سترګې ستا په سترګو کې غریزې
بل ښایست ته به څه ځای شي پکې پاتې
چې مې ستا ښکلا په سترګو کې غمیزې
ستا د ناز په وریښمین تال کې مې خیال زانګي
چې مې ستا ادا په سترګو کې غمیزي
څه که تیر وختونه ټول په سیند لاهو شول
ستا ځیره مې لا په سترګو کې غمیزي
بلهار شوي لیونیان پکې د مینې
چې مې شنه بیدیا په سترګو کې غمیزي

تر پرونه که ځلوب د نهیلی و
نن مې سره ځلا په سترګو کې غړېږي
له ناخوالو د مهال و چاپېریال مې
مرور اشنا په سترګو کې غړېږي
چې د شپې د اهریمن مرۍ مې پرې کړه
اوس مې روڼ سبا په سترګو کې غړېږي
چې مې ځان - جهان په ورکه رانه ورك و ،
هغه نور مې بیا په سترګو کې غړېږي !

۲۳ - ۸ - ۱۳٦۸

# څلور څپيز غزل

زما مينه

د زړه وينه

زما ښکلې

ګلورينه

نازولې

نازنينه

ښايسته ده

غنمينه

سترګې غټې

ملا مهينه

ناز مکيزو

مينه مينه !

پېښور ۲٤ - ۲ - ۹٤

# پنځه څپيز غزل

کرم ځان به درځار
که راشي يو وار
راتلو ته دې دير
يم سترګې پر لار
دا ستا له بيلتون
دی ژوند مې پر دار
ژړيږم بې تا
د شپې تر سهار
لږ غم مې کړه سپک
د مينې په پار
بې تا يم زبون
بې تا خوار و زار
د وخت له ستم
ستي په انکار
زړه تش کړ رقيب
زما په ازار

د خـــدای مخ دروړم ،
چې هير نه کړې زيار !

پيښور ، ۲۵ - ۲ - ۹٤

# درې څپیز غزل

زه یم ستا
تـه زما
یم بیتا
نیمه خوا
ته مې ژوند
ته مې سا
ته یې ناز
هم سنګلا
ټول مکیز
او ادا
یم مېین
زه پر تا
وکړه مهر
لږ پر ما
شم در حار
له وفا
شې که را
یو ځل بیا
شم واري
به له تا!

# دوه څپيز غزل

زه ځم
يار کسم
وېې
وينم
بيا ژر
راځم
رنګ يې
غنم
خوند يې
څکم
ناز يې
منم
پرې سر
ښنلم
مخ يې
ستايم
ستايوال ،

يې يم !

۲۶ - ۲ - ۹٤



•

# د مینې کرونده

د پردو توري څه باك ، که پر تټر خورم
زه له شنا واري د خپلو د خنجر خورم
څه ګیله به کړم د وخت له خسروانو
له خپل لاس لکه فرهاد تیشې پر سر خورم
په ښکاره که لکه ګل غوندې خندان یم
غوټۍ وزمه پټې وینې د ځیګر خورم
په زړښت کې هم وانه وښتم له مینې
پر زړه غشي لا د ښکلو د نظر خورم
دا د سپینو مرغلرو مرجونړا یم
چې په تل کې تل غوټې د سمندر خورم

دا هم غچ د توري شپې د زړه چاودون دی
که سرې وینې د شفق لکه سحر خورم
چې مې ور ونه پېژاند د همرازۍ څوک
د قلم په شانې ځکه به خپل سر خورم
ورته ما دا خپل تندی دی سندان کړی
که پلکونه د ناسازو سر پر سر خورم
خپله سمه لار به پرې نه ږدم ، هر څو که
له ناخوالو د مهال سره ټکر خورم
هغه بل مې په ګناه د عشق بایللی
دا چې غم پر دا جهان د سیم و زر خورم
ما د مینې پښتو کې خاورې اند و ژوند کړ ،
پر دا خوبښ ، چې پس له مرګ به يې ثمر خورم !

پېښور ، ۲۳ - ۳ - ۹٤

# بوللہ د حمزہ پر غزلہ

کله دي واره پښتانه پښتانه
کاشکې يو مخ شي پښتانه پښتانه
نه لري واك د خپل كاله پښتانه
دي په خپل كور كې ميلمانه پښتانه
كړل په خپل منځ كې بيلتانه پښتانه
جوړ لكه غوښه او چاړه پښتانه
كه نه لري بلوسگر ته خوله پښتانه
دا له خپل لاسه خوري رانجه پښتانه
ځنګه را پريوتل د برم له هسكه
هسكې شملې لكه د غره پښتانه

چې وو کیسو ته تیر له مال وسره
او ... تیر پیسو ته له هرڅه پیښتانه
پیسه دوستي ترې اوس پښتو هیره کړه
آ چې اړ نه وو په هیڅه پښتانه
خو چې وو وزي ، نو پښتو غزېدل
وایي پارسي ، چې شو ماړه پښتانه
چې پښتونواله ننګ و پت یې پریښوول
ځانونه بولي نور په څه پښتانه ؟
له سمې لارې د پلرو او نیکو
شول له یوې مخې کاږه پښتانه
تر شودو شهدو چې خواږه وو سره
سره تر زهرو شو تراخه پښتانه
نور چیرې ولاړل او دوی چیرې پاتې
شو پر هرڅه رانده کاڼه پښتانه
له بلو ژغور یې هیڅ په برخه نه شو
ځي له نړۍ هماغه ښه پښتانه
لکه وریښم شول په ښارو کې ښوی ښاك
هغه تر کاڼي هم زاړه پښتانه
چې نه یې خپل ځان ، نه جهان وپیژاند
څوك به کړي څه ، تش په نامه پښتانه
خدای که په صور اسرافیل هم ویښ شي
دا د عمرو په خوب ویده پښتانه
دي له خپل ځانه پردي شوي پاتې

تل د پردو په لمسانه پښتانه

له تربګنۍ چې ګډ دښنه ته تیروو
اوس شو یو بل سره دښنه پښتانه

د ګډ دښمن د ګریوانه پرځای اوس
نیسي یو بل له ګریوانه پښتانه

ګروهې ساتلي تل له پوهې لرې
نه سموي چې خپل کړه وړه پښتانه

ډیرو کړنو ، انګیرنو ، دودو
له ښې توښې نه وایسته پښتانه

ناپوهه پاتې ، ځکه کرکه لري
له نومهالي ژوندانه پښتانه

تول د موطل وینو ته تږي ناست دي
وکړم ګیله له کوم یوه پښتانه

کاشکې سړي وای ، تش وګړي نه وای
« په دعا ډیر د بیت نیکه پښتانه »

نه پیژني کوهی ګړنګ ، که نه کا
له سمې لارې جارواته پښتانه

د تورو سپینو ، زیړو سرو په دوکه
ځنګه سپک ورک شول دا درانه پښتانه

تل د میراني پر میدان یې ګټې
خو تل بیالي یې پر ونجه پښتانه

چې د بهر جنګونه کورته راوړي
په همدې اور کې دي وریته پښتانه

نه شي جوګه د نوي ژوند د سيالۍ
په منګ ځوانان ، په اند زاړه پښتانه
دا چې پرېږدي د ژوند جګړې ډګر
دومره بېځواک شو او بې زړه پښتانه ؟
يو څه به جوړ شي ، لکه وسپنه ترې
که يوځل سره شول دا ساړه پښتانه
نه شي هيڅ ځواک يې د نړۍ ماتولای
تر څو مات نه کړي پښتانه پښتانه
پرې به بټۍ کې د زمان د ازمون
شي له خامۍ نور هم پاخه پښتانه
توپان به جوړ شي ، لکه څاڅکي ځنې
که شي راټول خواره واره پښتانه
ښه ده ، يو موټی شي ، پښتو وپالي
په ټول لر بر کې يو پنځه پښتانه
تاريخي پېر ګوندې واکمن کړي بيرته
د خپل برخليك او هڅا به پښتانه
لکه نيبان څنګه واکمن نه اوسي
دغه شپانه او غوبانه پښتانه
دا تش بدن به يې ارام شي څنګه
څو وي نارام د ايشيا زړه پښتانه ؟

سر به له ګور ورته راهسك کړي حمزه ،
کېږدي کــه پلونه يې پر پله پښتانه !
شمالي وزيرستان ، ۱۵ - ٤ - ٩٤

# د ازمون پر دار

ګنه دا چې يو مفتون پر دار ځړېږي
که منصور ويا مجنون پر دار ځړېږي
دا ده مينه ، ده پلمه هسې شيرينه
که فرهاد د بيستون پر دار ځړېږي
دا دی کار بس د رښتينو ميناتو
چې د مينې د ازمون پر دار ځړېږي
د برچې پرمخ برخليک د مينې ليک دی
هست ونيست او ټول ژوندون پر دار ځړېږي
څه به هيله د دې دهر له سپرلي شي
چې بلبل ، ګل وګليون پر دار ځړېږي

د ښکلا اناهیتا او افرودیتا
د مزدا ، زرتشت ، اورتون پر دار ځړېږي
د دې ځمکې د خدایانو له وحشته
سقراط څه چې اپلاتون پر دار ځړېږي
کړي فرعون ویهودا پلتون د ګروهې
عیسی څه ، موسی هارون پر دار ځړېږي
چړاو ګډ دی هره ورځ پر بیوزلانو
چا ونه ویل ، یو قارون پر دار ځړېږي
لره بره واکمني د تورې شپې ده
که سپېدې او سباوون پر دار ځړېږي
په لمسون د وخت بیلتون چلوي راج خپل
ملتیا ، مینه ، پیوستون پر دار ځړېږي
د سر زورو د زر زور په محکمه کې
عدل و داد و نیاو ، قانون پر دار ځړېږي
د تیر اوس ترمینځ پریکون مې هستي ګواښي
هم مې نن ، هم مې پرون پر دار ځړېږي
تاریخ برم و ویاړو ننګ مینه ښایست مې
له جیلمه تر جیحون پر دار ځړېږي
یو دانه چې مې ژوندي ژوندي پر ګور شول
لا مې مړي د مړستون پر دار ځړېږي

د مین په نوم به زیار هم بیا ژاړه شي ،
نه چې وایي ، څوک پښتون پر دار ځړېږي !
پېښور ، ۲۸/۲۹ - ٤ - ۹٤

# د لمبو پر لمن

اوښکه د فریاد شوم ، د وختو پر لمن پریوتم
جوړ لکه شبنم د تورو شپو پر لمن پریوتم
تیر رانه سپرلي شول ، د ګلمخو په ارمان کې مړول
پرخه شوم د مني ، د اغزو پر لمن پریوتم
ما ویل د وږمې غوندې غوټۍ د ارمان وسپړم
ورانه بربوکۍ شوم ، د میرو پر لمن پریوتم
ما لکه ادم د زړه رباب پر چغو راوسته
طشت د رسوایۍ شوم ، د درخو پر لمن پریوتم
نه شومه جوګه د هسکو څوکو لکه واوره زه
بس یو زله زرکۍ شوم ، د غرو پر لمن پریوتم

مړو پړو ته نه شوم ، د ژوند زیری د مسیح په خیر
هسې یوه انګې د هدیرو پر لمن پریوتم
تاج د کرمنا مې شو په پښنو کې د هوس لتاړ
داغ شوم د پیغور د پرښتو پر لمن پریوتم
پورته انګازه د شور و زوږ له سر درو ومه
غږ د شومه دم شوم ، د ځنګلو پر لمن پریوتم
چا وحشي لاسونو راختا کړه د منزل موخه
ته وا لکه غشی د غرګو پر لمن پریوتم
ډیرو ازمایلم په بټۍ کې د ازمون زمان
شوم لکه پولاد خو ، د ایرو پر لمن پریوتم
ښکل مې و چې شونډې د ارمان د ساحل نه شوې کړای
چاود زړه پوکڼۍ شوم ، د څپو پر لمن پریوتم
څه که په ګوګل کې د ایشیا تپانده زړه ومه
وریت شوم ویلې ویلې ، د لمبو پر لمن پریوتم
ستوری د برمونو ځلیدم ، د ویاړ پر هسک باندې
څنګه د نومورکو شان شیبو پر لمن پریوتم
ژمنې یې په ژمنو کې شوې ورکې د راتګ نورې
رانغله ، خو تش یې ، د ښکالو پر لمن پریوتم
ځان مې که هر څو را ټولاوه ترې خو ټول نه شومه ،
دا چې زباره ، بیا هم د پښتو پر لمن پریوتم !

پیښور ، ۱٤ - ۵ - ۹٤

# ليمه ليمه

نه لوټوي ، چا ويل چې ليمه ليمه
تا خو زما لوټ کړل په ليمه ليمه
ښخ دې چې ليمه راته ليمو کې کړل
ښکاري ټول جهان راته ليمه ليمه
کړم دی په دې شك سرېخورو ليمو
نه دې دي په مخ کې دا ليمه ليمه
شوم چې د ليمو په جنگ کې پېر درته
نه شنو راته پاتې نور ليمه ليمه

وشي کـه خبر دې د راتگ پـر زيار ،
فرش به کړي پر لار درته ليمه ليمه !

پېښور ، ۱۵ - ٥ - ۹٤

## د وینو نغمې

ژاړم ، که څه هم ، ژړیدل مې نه زده
نه شم خندلای ، نه چې خندل مې نه زده
بې یار یې نه شم ، پر بل چا لورولای
داسې هم نه ، چې سربندل مې نه زده
د چا په سترګو ورته نه وایم څه
نه چې د سپي رقیب وندل مې نه زده
قلم مې روږد دی په ستاینه د یار
نور د بل چا ستایل غندل مې نه زده
زه د یوې مینې ښکلا یم لیوال
نه چې د بلې یوې موندل مې نه زده

د زړه له وينو زه نغمې راټوکم
د پردي دول ته نڅيدل مې نه زده
دوست و دښمن مې واړه وپيژندل
مګر د خپل ځان پيژندل مې نه زده
د خپل ځان مينه څاروم له جهان
خو د خپل ځان پردي کيدل مې نه زده
د مينې لار نغاړم د مرګ تر پولې
رغم که مرم ، راستنيدل مې نه زده
پر دار ختل خپل سر لوړی بولمه
خو د چا پښو کې تيتيدل مې نه زده

دښنه دې دا خـــبره بـيـرته واخلـي ،
چې اور ته مينه کې دانګل مې نه زده !

پيښور ، ۱۷ - ۵ - ۹٤

# د قافيې په قاب کې

ښکه چې لمر نقاب کې نه شي راتلای
هسې ستا مخ حجاب کې نه شي راتلای
تا چې پر چا د مینې کوډې کړې
بیا په هیڅ تب وتاب کې نه شي راتلای
زما وفا او ستا جفا هیروﻟ
کله په سوال ځواب کې نه شي راتلای
ستا د موسکا د رنګینو سیمفونې
نور په شپیلۍ رباب کې نه شي راتلای
چې یې پر زړو لکه جادو کړې لوبې
اوس آ نغمه مضراب کې نه شي راتلای

ملا ! زما د ګناهونو کیسې
ستا په ممبر محراب کې نه شي راتلای .
دومره را ټيلمه شوې د وخت ناخوالې
چې په حساب کتاب کې نه شي راتلای
ښکاري ! د زړه دا توپاني مرغه مې
نور ستا په جال تناب کې نه شي راتلای
د ژوند لاهو ماته بيړۍ مې نوره
د اوښکو تيز درياب کې نه شي راتلای
نور د ناپای ښايست د خيال انځور ستا ،
د قافيې په قاب کې نه شي راتلای !

پېښور ، ۱۳ - ٦ - ۹٤

# د مينې سجده ځای

ناتارونو د زمان هسې جلبل کړم
لا ناسور مې شي زخمونه که درمل کړم
هسك وځمکه راته پلونه شول د ژرندې
په خپل منځ کې يې د اورو په شانې دل کړم
د ورکلارو لاروی يې لارې کړی
خبر نه يم پر کوم لوري لامزل کړم
ستا بې غورې او بې لورې پټې مينې
خه د شپې له لارويانو سره مل کړم
چې اور وينې مې له رګه رګه څاڅي
وخت په هسې ننلار لوبه کې اتل کړم
چې تول عمر يې ستا د مينې سجده ځای و ،
څنګه صبر هغه زړه ستا له درشل کړم ؟

بې وفا مينې دې اړ ايستمه غلا ته
دا ستا ناز مکيز ، همستا د خولګۍ غل کړم
ځکه تاند ساتم په اوښکو ستا د ياد ګل
له ناکامه پرې چې ستا د مخ تسل کړم
بس ستا خيال دی ، نابللی چې رادرومي
که هرڅو ترې په چل ول کې ځان درغل کړم
په دې اند چې ستا اوربل دی اور بل کړی
که بسيا يې له اوربنده پر اوربل کړم
ستا د مينې پر پاکۍ مې دا ايمان دی
چې نانځول برخليك بدل مې د ازل کړم
که د ژوند په بيه هم راته پريوځي
چيرې مه شه چې تګلوری خپل بدل کړم
چې تياری د تور مهال ويوزنوم پرې
لکه شمه به پر سر باندې اوربل کړم
چې بيا ويني رقيب د مينې برم مې
مړو رګو کې يې پيدا به هغه لل کړم
هله خوښ به دې شم بيا د مرګ قاصده !
چې پر خوله دې تورې خاورې د اجل کړم
پيلامه خو به مې بيا د يوه توپان شي
که تا اړ نن په چوپتيا لکه ځنګل کړم

دا د چا د زلفو خيال نن را پُخلا شو ،
بيا چې بند يې په قافيه ، رديف غزل کړم !
کابل ، ۲۹ - ۳ - ۷۳

# د شپې تابوت

په نمنځ سربه د مزدك سپيڅلي لمر زدم
چې تابوت د شپې پر ولو د سحر زدم
چې د برم د نيلي سوې مې ، سوبې ښكل كړې
له ښاخ ځكه به د مينې تاج پر سر زدم
سر د دار چې سرداري كړه را په برخه
خود په لار كې به د مينې مال و سر زدم
چې د مينې سوې خړيكې هيرې نه كړم
شپه او ورځ مالكې پر زخم د ځيګر زدم
ما د مينې په زور مرګ ته ماتې وركړه
دا چې ستا پر لوري پلونه مې زرور زدم

دا مې ویلې د چوپتیاوو د غرو زړه کړ
که پر زړه د غمو پیټی لکه غر ږدم
په اسره د چا د گل مخ سنکلولو
لکه پرخه سر د غنو پر بستر ږدم
د ښایست خول ته دې بس یاقوتي اوښکې
نور یه څه پکې غمي دُر و گوهر ږدم
هست ونیست مې ټول ساتلي دي هم دې ته
چې یوه ورځ به یې پر مینه د دلبر ږدم
چیرې نه شي راپسې ښتنې سترگې
ورته سر نه ټیټوم ، لاس پر ټټر ږدم
گنهم غوره سر سپارل ترڅان سپارلو
خدای دې نه کړي چې غلیم ته توره سپر ږدم
ترهغې مخکې چې مینه را زندۍ کړي
پر مرۍ د چا هوس تیره خنجر ږدم
دا اغیز دی د هماغه چا د مینې ،
چې یې مخ ته نن ډالۍ د شعر هنر ږدم !

ننگرهار ، ۳۱ - ٤ - ۷۳

# زما وروستۍ خبره

که یو وخت مې پر دنیا پرې شوه ځیره
او مرګ وایسته زما د ژوند شیره
ویر ژړا به پرما نه کوئ له دوده
نه خیرات یوه پیسه او کسیره
د ملا ، ګور وکفن غم به مې نه کړئ
نه دی ګور زما په کار نه هدیره
ړومبی وپوښتئ علمي ازمیښتونونه
وه په کار یې که زما ځانډې خمیره
که نه بس مې ورځې دوه د لاښ لپاره
چیرې لرې ګوښې دښت یا جزیره
پرې چې وزې مرزګه خور پر ما ماړه شي
اړ نه یاستئ په پیره او شوګیره
پاتې شونو ته مې ورته کړئ بیا اور
چې سیلۍ مې د فنا یوسي ایره
راسره مې چې ګناوې هم ایره شي
تردې نشته بله غوره جبیره
مه ځان اړ باسئ ، یادګار را باندې جوړ کړئ
یا مې وکښئ دېرلیك او نظیره ...

هو ، که ور مې وو ، کره وره چیرې د ویاړ بیا ،
کړي تاریخ به مې تلپاتې نبیره !
تخیرخانه مینه ، ۲۸ - ٤ - ۷۳

## لوټ

چا مې د مينې خوږ جهان ولوټه
وحشي خزان مې باغ بوستان ولوټه
چې ښنبله تنده يې د تزو دښتو
چا له هغو وورو باران ولوټه
په دې اميد چې مې د مينې يار شي
پر لباسي اشنا مې ځان ولوټه
زما د مينې او ښکلا بلوسګرو
رانه د ټول عمر ارمان ولوټه
ژاړم به څه ، چې دا - هغه يې يوړل
زما يې ټول ژوند سرو سامان ولوټه

د « منځنيو تورو شپو » لاروو
زما د سپين سبا کاروان ولوټه
بې نوم نښانو د تاريخ راځني
تاريخي وياړ ، نوم ونشان ولوټه
د طاغوتي ځواکو په لمس يې رانه
لرغوني برم ، شوکت وشان ولوټه
تاريخوهلو مې په تولة هېنده
نن و سبا او تير زمان ولوټه
هيڅ پيژند نښنه يې را پرې نه ښووه
هسې يې زما نښه نښان ولوټه
دې ځانپلورلو د مرييو مرييانو
زما بيرغ ښکلي نشان ولوټه
خيانت يې وکړ د « امين » په نامه
اوس شوه ښکاره چې « لوی شيطان » ولوټه
پوست غوښې پلې مې نړيوالو مخکې
پاتې ايران او پاکستان ولوټه
د بل په خوله ، دې لاس په نام نوکرو
دا خپل هيواد څه بې امان ولوټه
په هيڅ اړ نه دي ، دا د دين سوداګر
لاندې يې ځمکه ، پاس اسمان ولوټه
نه کانې بوټې ، سم و غر ترې پاتې
هم يې ځنګل ، هم يې بيابان ولوټه
سپيڅلې ګروهې يې تر پښو لاندې کړې

هم یې مزدك ، دیر ومغان ولوټه
لکه خپل ځان یې کړ ، منفوره هم دین
هم یې بودا او سپینتمان ولوټه
لارې یې توکړې پر سپېڅلي آشه
نیرو وانا ، هم یې زوروان ولوټه
پښتون مغول ، تورك وتاجیك لا څه کړې
هم یې هندو ، هم مسلمان ولوټه
پر ژمنو ټینګ د حرمینو نه شول
په ډیرو لوړو یې قرآن ولوټه
د شیطانانو دې اوزد زیرو ورونو
له هر مومن ګروهه ایمان ولوټه
مسلمان ډولو د اسلام په نامه
هم رانه دا ، هم آ جهان ولوټه
د اسلامي فتوا تر پوښ لاندې یې
څوك په رنګ سمت ، څوك په لسان ولوټه
وپلورل ځان ، جغرافیا ، تاریخ یې
دوی آریانا هم خراسان ولوټه
ډوډۍ ، کالي ، کور یې پرې نه ښوول چاته
دردمن ولس نه یې درمان ولوټه
د پلار نیکه دښمن خوښۍ په پار یې
افغان ولس پر انګلستان ولوټه
چین امریکا یې اسلامي ملګري
په نوم د روس یې مسلمان ولوټه

د چا پرمخ یې آب ویت پرې نه ښوول
هم یې نر ښځه ، زاړه وځوان ولوټه
دې ځان مینو او ځان خوښویو مغ
خپل و پردي سره یو شان ولوټه
نه شو څوك بچ د دې اشرارو له شر
هم یې مزدور او هم یې خان ولوټه
هم یې کور کلی ، هم یې پوله پټې
هم نارنجباغ ، هم تاکستان ولوټه
کړه گلکخونه یې اغزنې دښتې
هم یې گلبڼ وگلستان ولوټه
د تمدن دښمنو زوړپالو رانه
نوی ژوند ژواك ، نوی دوران ولوټه
د ملي شتوڼ ننگ وناموس پلورونکو
د کرمنا تاج د انسان ولوټه
د جهالت پېړ یې پر ښځو راوست
واك یې د ځان ترې هغه شان ولوټه
د دښمنانو په وسلو پیسو یې
د خپل ولس روح و روان ولوټه
د پلار نیکه گټلی گران وطن یې
رانه څه بابز او اسان ولوټه
دې کفن کشو کفنونو پسې
هرچیرې گور وگورستان ولوټه

چنګیز ، انګریز ، هیتلر ، امین یې سپین کړل
بې پتو پت د هر افغان ولوته
زما د ننګ ونام غیرت ناتوبې
د بشریت دښمن « اخوان » ولوته
د تور وحشت ، بربریت تور زړو
زړه د ایشیا ، جنت نښان ولوته

« میړن امریکا » وحشي لوټمارو ،
زما ښایسته افغانستان ولوته !

ننګرهار ، ۲ - ٤ - ۷۳

د سویس له وختونو څخه :

## بربنډه مینه

یا دې خدای کړي ما دریاندې
یا دې تا کړي ترما لاندې
زما کټ به دې پرګانه سنووای
که پر ما وای ته زړه سواندې
په ورو ورو به دې کړم رامه
که هرڅو اوسې ناباندې
چې دې خوله پر خوله کړم ښخه
بیا به څنګه راته خاندې ؟
دومره کیګاږم دې غیږ کې
چې خولې دې کړم بهاندې

چی واتن مو تر منځ ورك شي
هسې خلیښت شو لاندې باندې
هسې شان دې را تموکری کړم
چې تلای نه شې وروسته وړاندې
نه پریږدم به دې ترهغې
څو دې ونه باسم ساندې
دا راکښون دی ستا د سپوغزو
که دي زما سترکې نغلاندې
پرې ! خوند واخلم له سینو دې
تل به نه وي هسې تاندې
مټې خوبښ به دې شم هله
چې دې سر کړم زنې لاندې
جې لاس پښې دې وتړم پرې
رادې کښېم د زلفو پیاندې
کړم به مینه مې در زیاته
که راوسپاره دا ځان دې

زیار چې ته شې سړولای ،
څه به غم د بلې کاندې !

# د ښایست په صحیفو کې

چې یم ستا د طوبیٰ سیوري په ورشو کې
ته وا اوسم د جنت په رنګینو کې
د موسکا په بدرګه دې هسك ته یون کړم
د لمر سیال شم ستا د مخ په پلوشو کې
رانه هیرې خوشبویي د ټول جهان شي
ستاد حُسن د ګلونو په عطرو کې
په زمول بن کې مې د زړه یې هسې تانده
لکه شنه خُرما ولاړه وي میرو کې
که ته ولاړې ، شوې پنا له تورو غرونو
لا ښکالو دې انګازې کړي په کمرو کې

چې د سترګو سمندر دې زړه راډوب کړ
شوم يې ښکېل په توپاني مستو څپو کې
پکې ولامبي چې خيال ستا د راتللو
په دې پار مې اوښکې ډنډ دي په ليمو کې
د سپوږمۍ پر ذهن خدايزده څه تيريږي
چې ځانويني په هنداره د اوبو کې
بيا په کلي کې د ستورو څه وير ګډ و
چې بيګا چوپه چوپتيا وه په کوڅو کې
زمانه بيا څه کږې ليکې راکاږي
په دفتر د دغه سوزنده شيبو کې
ګونګوسي د چونو ولي سپينې نغمې لا
د بلهارو د سرو وينو په ډنډو کې
دا برخليک مې د خزان پر پاڼو ليک دی
ګرځوي مې برېوکۍ چې غرو رغو کې
زمول باور مې هسې خوب د سپرلي ويني
لکه څري چې غرڅه په شينيلو کې
ستا پر وچولي ايات د مينې لولم
که دې غواړم د ښايست په صحيفو کې

چې سور سپين مې د سبا د تندي ليک کړي ،
سره د وينو د شپې ځلي په سپيدو کې !

پيښور ، ۱۰ - ۷ - ۹٤

# د وینو وینې

له رګ رګه د وختونو وینې څاڅي
د شیبو له پرهرونو وینې څاڅي
د بلهارو په غلبیل غلبیل سینو کې
له ناسورو زخمي زړونو وینې څاڅي
مخسوری یې د څنلو ونه ګڼې چې
د اسرو له سهارونو وینې څاڅي
پیغلې هیلې د ځلمو پر سیند لاهو شوې
د ښکلا له ګودرونو وینې څاڅي
پیلامه د پاك سپیڅلي شهادت ده
له خازو چې د قبرونو وینې څاڅي

چې کبلې ورځنې ترهـي او بوږنيږي
د هوسيو له تيونو وينې څاڅي
تيره غشي هرې خواته الواته کړي
د کوترو له ځانګونو وينې څاڅي
خدای قبوله کړه دعا د کوم فرعون
د ملکو له وزرونو وينې څاڅي
د وحشت لمبې شوې پورې پر سرو جالو
د سبرونو له ښاخونو وينې څاڅي
د تبرونو توري خولې هسې سرې نه دي
له باغونو او ځنګلونو وينې څاڅي
بريښنا اور دی په مالوچو کې کړلی
اوريا نشته ، له ورونو وينې څاڅي
مني ولي پسرلي په سرو سکروټو
له سمسورو ګلکڅونو وينې څاڅي
کاڼي بوټي د هيواد زخمي زخمي شول
له دې غرونو او دښتونو وينې څاڅي
ځمکه وينې ، هوا وينې ، اسمان وينې ،
ته به وايې چې له وينو وينې څاڅي !

پتهاني - سوات ، ۲۹ - ۷ - ۹٤

# وریښم ګوتې

ستا ازار پر ما که له یو سر لګي
زما ددې پر تا هم څه اثر لګي
خوشې په تمیکرې کې رانه نغاړې مخ
چا ویل دروغ ، زما نظر لګي !
ستا ښکلا مې هسې بریښوي سترګې
ته وا ، مخامخ را باندې لمر لګي
وواېه ینو ته دې ، لږ پام کوه !
دا ښتې مې نیغې پر ځیګر لګي
شي دې را خپرې د ګلبدن وږمې
لکه له ګلبڼ نسیم سحر لګي

پوه شوم پر اغیز ستا د وریښم گوتو
جوړ لکه پتې چې پر پرهر لګي
پرې چې یاقوتي اوښکې در ولونم
تاج ته د ښایست دې دا گوهر لګي
نه به شم له تا زه لاس پر سر کله
کاڼي د اسمان مې که پر سر لګي
بوله يې ازار د کوم ناکام مین
دا چې دومره ټکې پر گودر لګي
ټول راځي له گور ته د یوه دښمن
هر غشی که لر لګي یا بر لګي
هرڅه چې کوي رقیب ، یو ورځ خو به ۳۴
واری پرې زما هم برابر لګي
ژر به شي در غبرگه همدا ستا پر لور
ستا گولۍ مې نن که پر سنگر لګي
تیر دې له خوږو نه د جنت ملا !
هر ورم دې پر ما لکه خنجر لګي
ستا د تورو شپو له غلیاك نه دارم
ستا د شکانه غشي پر کمر لګي

بولي دې بیځایه شیخ کافر ، زیاره ،
پته د ښه بد خو پر محشر لګي !

# د خاموشۍ پر ژبه

څه به زره خوړم چې ناشنا وخوړم
په اشنايی کې زه اشنا وخوړم
مال چې دا څه توري بلا وخوړم
د تورو زلفو اژدها وخوړم
څه دي په کنج و کرشمو او مکيز
څه دي په بناڅ ، نازو ادا وخوړم
د کاڼو زړه کې زه فرياد فرياد
ستا د آينې غوندې چوپتيا وخوړم
پوه خو دې شوم د خاموشۍ په ژبه
چې ستا د ګل غوندې خندا وخوړم

د مخ شغلو دې چم د زلفو وکړ
لکه شبنم د لمر ځلا وخوړم

تول دی لمسون ستا د بې لورې مینې
زه که رقیب او که بل چا وخوړم

شونډې دې سرې زما د زړه په وینو
که نور پردې خورې ، زه همتا وخوړم

په خپل سبا بیګا دې پوه نه کړم زه
په ژمنو تا سبا بیګاه وخوړم

څپان د اور وینو بهاند هره خوا
خه ناتارونو نن سبا وخوړم

لکه هنداره په سپېڅلې ذهن
د بل ریا ، خپلې ربنتیا وخوړم

که د چمن د بنیرازۍ وزمه وم
د بربوکۍ په شان بیدیا وخوړم

لکه چې شمه له محفله ځار شي ،
هسې زه هم غم د دنیا وخوړم !

پېښور ، ۸ - ۸ - ۱۹۹٤

# د تیزو زرونه

توري شپې راوره تورتمونه یو مخ
وزیږول یې ناتارونه یو مخ
له توره ذهنه د تیاره چاپیریال
دي رابهاند تور ګناهونه یو مخ
په اوه دریابو به هم سپین نه شي بیا
چې یو ځل تور شول کوم مخونه یو مخ
څه ناورین راغی د ښکلاوو پر ښار
لوټ شول د مینې ګودرونه یو مخ
دا توري وریځې راخپرې پر سیمه
راوروَي سره تندرونه یو مخ

څانګې د ورځو پر زخمونو باندې
د لمر آينو اوښکې رودونه يو مخ
بلبلان ساندې لې په وير د ګلو
پرې چې را سر شول پانړيژونه يو مخ
پر ګلګڅو د سپيدو اور ولګيد
پکې لمبه شول سهارونه يو مخ
اهريمنانو ويلوسل اهوريان
وران د مزدا شول مزدکونه يو مخ
پلټون د ګروهې وينې وکرلې
سره منصورانو کړه دارونه يو مخ
موږ « کافرانو » ته لا دې دنيا کې
او وکړل جوړ ، اوه دوزخونه يو مخ
تورې ايرې مو د نيستۍ پر خوله شوې
څه که ياقوت مو شول لالونه يو مخ
د ژوند په پښو کې مو اغزي اغزي شول
خړوب په وينو سره ګلونه يو مخ
د چوپتيا ګوتې به انځور کړي اخر
د تيزو زړونو فريادونه يو مخ

د تـور و سپين په بيلتانـه کـې زيـاره ،
شوې اور و وينې دې شعرونه يو مخ !

پيسور ، ٢٤ - ١ - ٩٥

# ټوکلی لاله زار

که مې توی د ورځې وینې ، شوې په کومې د ماښام کې
شپه مې ځاځې لګه شمه ، د سپیدو سهار په جام کې
دومره هسك زما د مینې ، د هما د الوت برم دی
چې په ښکېل نه شي هیڅوخت ، د چا د خیال هوس په دام کې
منصوری رښتینې مینې هسې شان جاویداني کړم
رسی، دار راته یو تشه ، افسانه شوه اوس په پام کې
ستا د ښبو ښکالو د عطرو ، بنفشې ځاځکې راوورې
دي پسرلي.سترګې پر لار دې ، په ورشو د ناز خرام کې
ګوندې راشې په ګلیون ، د دې ټوکلي لاله زار مې
ما کرلې وزمه ، درته سترګې په هرګام کې

د هستۍ پر گلبڼو مې ، د پانړیز قانون چلیږي
د وحشت د تور ځنګله ، د شرمښانو په نظام کې
چې ژوندۍ مې پر ګور سپاري ، د ښایست د ګودر پيغلې
ما خو هیڅ توپیر ونه موند ، منځ د کفر و د اسلام کې
څه خوږې خوږې شیبې مې ، شوې د مینې شهیدانې
دا د چا قاتل په لاس مې ، ورک اغاز شو په انجام کې
څه کانې دغې نانځولې ، زمانې پر ما ونه کړې
د ناکامې مینې ژوند مې ، هسې تیر شو په ناکام کې
دا زما سرامنو اوښکو ، د رقیب زړه نرم نه کړ
څه اغیزه یاقوت نه کړې ، په مرمرو او رخام کې
څه به ژاړې مغولواله ، د وختو د اورنګانو
سراسر واړه ګناه ده ، د خوشال په خپل بهرام کې
دا خو مینې زلیخا یوسف ، محمود ایاز پخلا کړل
که نه چا وې اړ پیچ نښته ، په بادار او په غلام کې
زیار په څیر د ګلغوټیو ، ونغښتلې د زړه وینې ،
د لمریز مزدک پر لورې ، د بللو په پیغام کې !

سره مینه ، ۱۷ - ۲ - ۹۵

# د مینې تاج

دا چې په خوا کې مې دلبر لرمه
څه به پروا پر بحر و بر لرمه
که مخکې ستا په ژمنه شك کاوه ما
پر بې ژمنی دې اوس باور لرمه
دا یاقوتي اوښکې مې څار درځنې
بې دې به نور څه در گوهر لرمه
ستا د ښایست له ښه مېشت پر بیدیا
لکه لاله داغ پر ځیگر لرمه
چې وښندم یې ستا پر مینه باندې
که مې مال شته ، نشته خو سر لرمه

که یې له تابه لکه پرخه نه یم
بیا هم تکل پر لور د لمر لرمه
چې ورك را ورك دي منزلونه پکې
مخې ته هسې اوږد سفر لرمه
د یوې مینې د وفا په ګناه
د رقیبانو یو لښکر لرمه
ژوند مې شو تیر په محشرونو کې تول
څه اندیښنه د بل محشر لرمه
چې تیر مې نه وځی پر موسکیو شونډو
په خوله خندان پر زړه پرهر لرمه
د تورو شپو زړګی به وچوي اخر
زه خو ایمان پر سپین سحر لرمه
چې د وختونو زلزلو ته تینګ دي
هوډیالی زړه لکه د غر لرمه
چې کرم ورمات دا خپل لاس جوړي بوتان
زه له اذره څه حذر لرمه

که د ښکلا د تخت ور نه شوم زیاره ،
د مینې تاج خو لا پر سر لرمه !

پیښور پوهنتون ، ۷ – ٤ – ۹۵

# ته مې په زړه کې يې تل

لکه مې کسی په ليمه کې يې تل
ته مې په زړه کې يې تل
ته مې په زړه کې يې تل !

لکه رنګينه موسکا
پر ګلورينو شونډو
لکه د عطرو وږم
د ګل په پاڼو کې پټ
لکه نيمژواندې سلګۍ
د نيم بسمل ستوني کې
هسې په تل کې د يادونو زما
– د مرغلرې غوندې –

ته وا خوندي د سيپۍ خوله کې يې تل

ته مې په زړه کې يې تل !

ته مې په زړه کې يې تل !

***   ***

که زه په کور

يا په بيديا کې يمه

که زه په ويښه

يا په خوب کې يمه

يا د لار ورکي لاروي په شانې

پر غرو رغونو ګړنګونو سر يم

يا د بې موخو پرديسانو غوندې

اوږدې اوږدې او ستړې لارې نغاړم

خو بيا هم هرچيرې،

په هر لورې کې

راسره مله په هريانه کې يې تل

ته مې په زړه کې يې تل !

ته مې په زړه کې يې تل !

***   ***

مرور خيال دې چيرې

پيښه را وکړي کله

کړي را پُخلا مې مينه

زړه ته تسل شي زما

د بيلتانه د سرو شيبو په اور کې

خو بس هم ته یې ګلې !
چې شیبه نه کړې تمیکاو
او لکه پرک د برېښنا
رانه په تله کې یې تل
ته مې په زړه کې یې تل !
ته مې په زړه کې یې تل !

*** ***

هسې په خوب وخیال کې
کله پیدا او کله ورکه رانه
در پسې غواړم هیوادونه هسې
سمه او غر و بیابانونه هسې
خو چې راستون شم بیرته
وکړم نظر شاوخوا
راسره یوځای په کاله کې یې تل
ته مې په زړه کې یې تل !
ته مې په زړه کې یې تل !

*** ***

که شي هر څو مو واټنونه ترمنځ
وچې لندې سمندرونه ترمنځ
یو له بل بېل په ویر ویرژلي پاتې
ځار ونتلي او پوږژلي پاتې
خو بیا هم غم د بیکسی به څه وي
ویر اندیښنه د پردیسی به څه وي ؟

چې له لومړۍ ورځې ته هم راسره

په پردیسۍ او بیلتانه کې یې تل

ته مې په زړه کې یې تل ...

لکه مې اوښکه په لیمه کې یې تل

ته مې په زړه کې یې تل ... !

کابل ، ۳ - ٦ - ۹۵

# جلوهلې کربلا

دا منم ، په دعې ګرم وګناهګار یمه زه تاته
چې ستاینه ستا د سترګو د ښایست کوم هر چاته
ما ځوانې ستا له پیغلوټو پرندو سترګو هم دروږ کړه
که خپل ښه بد مې پرې ایښي وو له مخکې ستا رضا ته
لا به څو ګړوې‌مینه مې ، د وخت په کړایي کې
د ښایست باغچې مې لوټ شوې ، د ژوند خونه مې میراته
پریږده ، ستا د پاکې مینې د « مقدس » د ژغور لپاره
خپل فریاد له ‌یاریکو ورسومه بیا دنیا ته
که په منځ کې ازمایښت د بلهاې د حسین نه وای
فرات څه چې دجله بس وه جلوهلې کربلا ته

دا هم لور د بشر و، چې ژوند سوزه ړومبی بم یې
استولو بیګناه ناګا ساکي ،هیرو شیما ته
راته بویه د نوح ژوند د ایوب زغم بې له کوم شکه
خپل پرون ولیږدوو چې پر اوږو د نن ، سبا ته
چې شي بیا د زړګي کور مې ، د خوښې مینې ، تماتوبی
ګونډې بیا پیښه را وکړي ، سوله زړه د ایشیا ته
زیار دې مینه کې خو واري ، له توبو نه توبه کړې ،
هغه ورځ کله رامـه شه ، له تـوبو کـړي توبه ماته !

پیښور ، ۱۰ - ٦ - ۹۵

# د غزل باج

تا چې د سرو تمیك پاس پر اوربل ایښی
ته وا راته زړه دې پر اوربل ایښی
هسې دې پرمخ زلفې خپرې نه دي
دام دې راته خدایزو ول پر ول ایښی
نوې ادا ګانې دې بې څه نه دي
دا دې راته ګلې ! بیا څه چل ایښی
چیرې مې کړلي چې لمبه درته
تا هلته له نازه کله پل ایښی
څنګ به راووري نه زما پر زړه
خال دې چې د وروځو پر مورچل ایښی

گونديٖ شي ډالۍ دېٖ د بې نياز ښايست
ژوند مې ستا د مينې پر بورجل ايښی
وا لکه غاټول مې په موسکا شونډې
پټ دې راته داغ که پر گوگل ايښی
ماته پيمانه به د پيمان نه کړم
لاس مې پر قسم درته يوځل ايښی
بې له تا چې بل چا لره ټيټ نه شي
ځکه مې خپل سر ستا پر درشل ايښی
نغاړم يې د مينې د بري تر برید
گام ما پردې لار په دې تکل ايښی
يوه شيبه ليدل دې غنيمت گڼم
وخت که راته تاپې د اجل ايښی
وابه نخلم پل پر هغه لاره زه
چيرې چې رقيب ناولی پل ايښی
کړم چې زور د مينې د دښنو اوبه
مټو کې مې مينې هغه لل ايښی
سوبه د ښايست د هيواد کړې ما
وياړ تاج مې پر سر له دې کبل ايښی

راج دې د ښکلا ښکاري چليزي لا ،
دا چې دې پر زيار باج د غزل ايښی !

اکوړی ، ۲۳ - ٦ - ۹۵

# د عاج ماڼۍ

بويه پر سر دې ګلې تاج د ښايست
چليزې هرځاى دې چې راج د ښايست
هم ته يې وړه د دې وياړ چې اخلې
له ښکليستان د ښکلو باج د ښايست
سارى دې نشته دى په درست جهان کې
ما دې اخيستى چې کوم جاج د ښايست
زه به تل ژوند کړم ستا و لور د مينې
ستا يوه موسکا بس ماته داج د ښايست
ستا د سپوږمۍ مخ پلوشو له اغيز
شو ګلاند لمر دې هم محتاج د ښايست

ځنگه د حُسن پیغمبره نه شي
ورسیدې چې تر معراج د ښایست
چې تل وي مینه لا لهانده پسې
څه عجیبه دی دود رواج د ښایست
د اورنۍ مینې د غچ په نامه
وختو راګډ کړ څه تاراج د ښنامیت
پرې ! د تورتم د ګور ځنګله په زړه کې
اوسي بلاند دې تل سراج د ښایست
ښکلې « سرایو » مې شوه ستې ورسره
که لولپه مې شو « بیهاج » د ښایست

نوره یو مخ شوه دړې وړې زیاره ،
ها ستا خیالي مانۍ د عاج د ښایست !

حصارک ، ۲۰ - ۲ - ۱۳۷٤

# د ارمان هینداره

نور د رقیب پر خوله باور نه کوو
خوشی سودا پر مال و سر نه کوو
نوره به مینه زړه کې پټه ساتو
د کور خبره به بهر نه کوو
موږ د تور – سپین ترمنځ راکښلې کرښه
شپې ته کیسه د سپین سحر نه کوو
د سر په بیه یې چې نغاړو پرمخ
په هغه خوا دار د خطر نه کوو
موږ ازماییلی د یوې مینې اور
زړې کیسې د لرو بر نه کوو

چې راسپړي نارنجستان د برخليك
غم د پېزلو د پرهر نه کوو
هر څه به پريږدو د تاريخ پريکړې ته
موږ ورمندون د خير وشر نه کوو
موږه د مينې محبت لارويان
کله تور بريښ د تورې سپر نه کوو
لکه گوريت مو تل الوت پر بره
موږ جگ نظرې تيټ نظر نه کوو
څو له بوټانو پاکه شوې نه وي
هغې کعبې لره سفر نه کوو
چې پرې د يار پرځای اغيار زدي پلونه
نور پر ها لار د ليمو کر نه کوو
ده مو چوپتيا له ټوپان مخکې غليا
څه که ښکاره اوس شور و شر نه کوو

چې د ارمان ښکلې هېنداره نه شي ،
موږ هسې لـــوبـــې پر هنر نه کوو !

بهرو ، ۱۱ - ۵ - ۹۵

# وبرليك

متې چې را واستاوه دې ليك راته
جوړ دې د تندي په گونځو ليك راته
خال دې پر تندي كه زما وينې وې
ودې كيښ همداسې تندې ليك راته
برخه له ازل كه وه سپيره زما
سنه شو چې رنگين دې كړ برخليك راته
زه خو بې سرليكه يو ليكى ومه
تا وكيښ د مينې جوړ سرليك راته
دا چې گرځوې بدرگه ځان سره
هسې دې پيدا كړ بل شريك راته

شي چې بیا راتاند زاړه زخمونه مې
بیا د پېنو غشي کړه شلیك راته !
ورك به په ځنګله ستا د اوربل کې وای
نه ښووای که لار دې د سرو تمیك راته
بیا هم غولوم ستا په بولونو زړه
نه ښکاري که یو هم پکې تمیك راته
نور به هم سا ډوبی لیونی کړې ما
مه جوړوه ځان دې دومره شیك راته
ځکه به ترې ځاخې تکې سرې وینې
تا مې زړه کړ هسې شانې لیك راته
لیك چې ستا جفا ، زما وفا وي پرې ،
بـویه ګـــرانـــې هسې ډبـرلیك راته !

# د مرجانونو څانګې

دریغه که د لمر د الماسونو څانګې ماتې شي
سم به ورسره د سحرونو څانګې ماتې شي
خدای مه کړه د شپې د بوږنوړو تورتمو په لاس
نورې د سپیدو د سپیدارونو څانګې ماتې شي
نه چې باغ د هسك د سپوږمۍ تنکۀ توره دښته کړي
مه شه چې د ستورو د ګلونو څانګې ماتې شي
پرې ازمون بېتې نه د زمان مخسور راووځي
را مه شه ها ورځ د مرجانونو څانګې ماتې شي
اوړي بې امانه چې د اور وینو له پولو نه
څنګه به د هغو بهیرونو څانګې ماتې شي

بیا نه را ټوکیږي ژوند ښباندو پسرلو سره
باد نه د خزان که د سبرونو ځانګې ماتې شي
تورې ګورې وریځې که شي لرې د اسمان له مخ
مټې به د اوښکو د ږدونو ځانګې ماتې شي
زه خو بې له هغې هم څه نه ومه چې څه شمه
ستا به د بریو د برمونو ځانګې ماتې شي
یو ځل که پاکي زما د مینې در څرګنده شي
نور به دې پر ما د ګومانونو ځانګې ماتې شي
زړونه لکه لال د بدخشان بیرته رغیږي نه
مه پریږده ، د هسې سرو لالونو ځانګې ماتې شي
هله به مې مرګ د اند و ژوند وي په رښتیا زیاره ،
زما د خیال د باز که د ځانګونو ځانګې ماتې شي !

پیښور پوهنتون ، ۳۰ - ۱۱ - ۹۵

# زمن شعر

د تور تمې شپې په غيز کې به سحر ښکلا وي ده شي
په تيارو تورو اوريځو کې به لمر ښکلا وي ده شي
چې ده سر ترپايه تولو له اومو وريښمو جوړه
دا زما په شاړه غيز کې ها دلبر ښکلا وي ده شي
زما ژوند خو دى له مخې د اغزيو پر پوليو
د يار خيال به راسره پر دا بستر ښکلا وي ده شي
بې جړېدنه د سرو شوندو ، منګرو زلفو چيچلى
د کوم شيخ په زهرژلي دم منتر ښکلا وي ده شي
خوب ارام د هغه کار دى چې له مينې نه وزګار دى
د بنو په غشو غوڅ زخمي ځيګر ښکلا وي ده شي

چې څوك نه شي نظرمات ته د ښایست لوگی کیدلای
ها ځانساتی به د مینې پر مجمر ځنگه ویده شي
د چا زړه چې په گوگل کې تل د نورو په پار غورځي
په هغه کې به د عشق د اور شرر څنگه ویده شي
چې د سوبې د آس سوې یې ښکلوي د اسمان ستوري
د نرۍ له اړو دوړه بیخبر څنگه ویده شي
چې په پار د پرگنو تل له خپل ژوند سره لوبیږي
ها سر تیری جنگیالی به پر سنگر څنگه ویده شي
جهنم جهان چې نوروته جنت جوړول غواړي
د مرگي په خوب به هغه تر محشر څنگه ویده شي
د زیارکښو لارښنۍ ته شپه او ورځ پرځان یو کړي
چې تل نور را ویښوي هغه رهبر څنگه ویده شي
وړي د مني د مرگ خوب خو تل پانریژه ونې بوټې
په دا خوب به تلښیرازه صنوبر څنگه ویده شي
په رگ رگ کې یې چې وینه ده د زیار د زړه بهانده ،
په دا هسې ژمـن شعـر کـې بـه هنر څنگـه ویده شي !

پیښور پوهنتون ، ۳ - ۱۲ - ۹۵

# د یادونو پر بستر

له وریښمینو کرشمو دې ، د وفا خیالونه اوبم
له مالګینو مکیزونو ، همدا ستا خیالونه اوبم
چې وزمې دې زیري ګرې ، شي د ګل بدن د عطرو
له ښکالو دې د راتللو ، د ښکلا خیالونه اوبم
د یادونو پر بستر چې ، واټنونه مرور شي
د خوبونو په شنه غیږ کې ، دې پخلا خیالونه اوبم
دا چې ورانګې د لمر مخ دې ، پکې کاندې پټپټانی
له شپیني تیاره وربل دې ، د سبا خیالونه اوبم
د موسکا لارې دې څارم ، د وختونو په وورو کې
د غاښونو له ځلا دې د بریښنا خیالونه اوبم
د مهال اهریمنانو ، له هستۍ لاس پر سر کړی
له لمرینو پلوشو د اهورا خیالونه اوبم
ما د خپلې مینې شاړه کرونده پرې خروب کړې
که له کښت د خپلو وینو د زرغا خیالونه اوبم
چې تسل پرې د اوبدلو تورو څڼو د اشنا کړم
د ژړګي له غوڅو مراندو څه اشنا خیالونه اوبم
چې ستا مینې مې له پامه ټول جهان کړ مینه مینه ،
د غزل له غځونو ، د دنیـا خیـالـونه اوبم !

پیښور پوهنتون ، ۱۲ - ۱۲ - ۹۰

# د یزدان ترنامه لاندې

دا لیلا لیونۍ شوې ، چې مجنون په کانو ولي
د فرهاد په غېږ شیرینه ، بیستون په کانو ولي
لا تراوسه ورته ښکاري ، لیوني د چا د مینې
چې لوی وور د شهیدانو ، مړیستون په کانو ولي
چې بیلارې لارویان یې ، دي منکر له نریوانا
څه عجب که گوتمبدو ، بودتون په کانو ولي
ټولې چارې طاغوتي ، لکه فرعون و یهودا کړي
چې عیسا تصلیبوي ، موسا هارون په کانو ولي
چې پایښت یې له پایښت د تورو شپو سره تړلی
ورځ دښمن ماښامیان څکه سباوون په کانو ولي

دا د وخت اهریمنان بیا ، د یزدان ترنامه لاندې
کلیسا ، مسجد ، مندړو ، هم اورتون په کانو ولي

بیا ترمنځ د ګروهې پوهې ، د جنګ اور په بلیدو دی
چې سقراط په زهر ووژني ، اپلاتون په کانو ولي

نن سبا چې په اور وینو ، مرګ و ژوبلې نه مړېږي
دا د خپل پردي مختوري ، خپل ژوندون په کانو ولي

له کیسې یې چې خبره اوس پیسې ته رسیدلې
خپل تاتوبی ، سم و غر و دښت هامون په کانو ولي

ناروغي او ناپوهي یې ، له همدې سره دي غوټه
چې روغتون په کانو ولي ، پوهنتون په کانو ولي

د تاریخ په یاد هم نه دي ، هسې شان تاریخ ځپلي
چې په خپل لاس خپل تاریخ و ، نن پرون په کانو ولي

پاتوري د ابدال دي ، ته وا یو مخ سربداله
له جیلم و اباسینه ، ترجیحون په کانو ولي

په خوشال و په شیرشاه پسې راخیستې یې له ځیلمې
دی قسم که به اورنګ یا همایون په کانو ولي

له درانه خوب د پیریو به راویښ څنګه دا قام شي
چې هر یون په کانو ولي ، هر پاځون په کانو ولي

له چنګیز و له انګریزه به څه سر ټکوې زیاره ،
چې پښتون را پاڅیدلی ، او پښتون په کانو ولي !

هاستل ، ۳۰ - ۱۲ - ۹۵

# د ځمکې خدایان

پرې ! چې مې سرکښه ، هوسونه په اورو وسوځې
سر تر پښو مې پوست و ، پلې هډونه په اور وسوځې
ځان مې سپمولی چې ، تراوسه ستا په مینه کې
ښه دی چې مې واړه ، اندامونه په اور وسوځې
یم بې له هغې چې دوزخي او لیکم دوزخي ژبه پرې
څه باك که مې ګوتې او لاسونه په اور وسوځې
تیر له بل جهان و ، له دوزخ و له جنته یې
بویه مې همدلته ، ګناهونو نه په اور وسوځې
نن وي که سبا ، د دغې ځمکې له خدایانو به
دا سمې او غرونه ، ځنګلونه په اور وسوځې

راشه اورنۍ میني ! چې وسوځم لمبه شم او
تا سره مې یوځای ، ارمانونه په اور وسوځي
څه که تا زما ښکلې ، نرۍ توري ایرې کړله
ستا به هم د ظلم ، جهانونه په اور وسوځي
څه که دې سره کړې ده ، تر پښو لاندې زما ځمکه
ستا به هم د هیلو ، درمندونه په اور وسوځي
دنګ چې په سرونو ، ککریو د بیوزلو دي
یو ورځ به هغه ماڼۍ کورونه په اور وسوځي
ساتي مې چې لرې د یارانو له محفل ځنې
یو مخ دې د میني بندیزونه په اور وسوځي
ایستي یې له هر دود و سیالۍ د دې دنیا چې یو
نور دې دا زاړه دود و جالونه په اور وسوځي
نه نغاړې که زیاره د رښتینې میني سوز پکې ،
ستا دې دا د شعـــــر دفترونه پــه اور وسوځي !

میلمستون ، ۳۱ - ۱۲ - ۹۵

# د مینی منزلونه

ما په لار کې ستا د مینې منزلونه سترې کړي
واټنونه ، پړاوونه ، تکلونه سترې کړي
ما ونه شو کړای ،کرم نرم ، ستا د تیزې غوندې کلك زړه
که پر تا مې ډیرې کوډې ، افسونونه سترې کړي
ما پرې ایښې په هیڅ توګه ، نه ده ستا د وفا لیاره
که څه هم رقیب پر ما ډیر ، ازمینښتونه سترې کړي
ورمګر مې اړوای له مین هوډه کله نه شي
که هر څو یې په ورمو راته ځانونه سترې کړي
دا هم هوډ بویه زما ، د فرهادي سپیڅلې مینې
چې ورپسې مې د غروټرې ، کږلیچونه سترې کړي

لوړ مقام د ليونتوب زما په برخه ښنګه نه شي
په لټون مې د ليلا تول ، بيابانونه ستړي کړي
د جنت مخ به و نه کسي ، ورانوي کعبې د زړو چې
که هر څو يې په لمنځونو جوماتونه ستړي کړي
ورته تير د ژوندانه له ډيرو هيلو ارزوګانو
ستا د وصل په اسره مې ، ارمانونه ستړي کړي
سوو ساندو ، فريادونو ، مې جهان پر سر اخيستی
ما په ډيرو خيرونو ، ګريوانونه ستړي کړي
رغيدل مې نشته هيڅ ، د بيلتانه له درد و رنځه
که هرڅو مې درمليان و درمانونه ستړي کړي
زيار بيا هم پاتې راغلی ، په ستاينګ ستا د ښکلا کې ،
کـه بې شمير يې پـرې د مينې داستـانـونه ستړي کړي !

پوهنتون ، ۳۱ - ۱۲ - ۹۵

# سرخېلي

لکه څرنګ چې له یاره ، دښمني اسانه نه ده
هسې رنګ هم له رقیب سره دوستي اسانه نه ده
څو وږمې د پسرلي پرې خپل وازره راخپاره نه کړي
د خزان زمولو غوټيو ، ښيرازي اسانه نه ده
د لیمو پر کچکول څو ورته پټري ونه وهل شي
د ښایست په چم کوڅو کې ګدايي اسانه نه ده
مینه وینه یو له بله سره نه شي بیلیدلای
که یاري اسانه بریښي ، بلهاري اسانه نه ده
بویه ولل يې د سپیدو په رڼوبیو له مخ دربلې
د تورتمو شپو په زړه کې رڼايي اسانه نه ده

زه د لمر د خدای لټون کړم ، ته د ځمکې د خدایانو
له اسمان سره د ځمکې څه سیالي اسانه نه ده
د یزدان پرګڼای پالنه ، نن سبا د اهرمن شي
دا خو ځکه د دویم دې لاروي ، اسانه نه ده
ګروهه چار دی د ښتګچارو ، پوهه چاره د پوهانو
ګروهیالي یو خوب وخیال دی ، پوهیالي اسانه نه ده
مجاز هسې افسانه ده ، مینه واړه حقیقي ده
په ټول جاج هانا رښتینې ، عاشقي اسانه نه ده
چې د حق ناره یې پورته ، له هرڅاځکي وینې نه شي
ډیر به وخیژي پر دار خو ، منصوري اسانه نه ده
په چل و ل و زور وزرو ، ښکیلیدای شي هیوادونه
خو د زړونو پر اوږجو ، واکمني اسانه نه ده
که اسان اسان ګټل شي ، هسې ګران هم ګران ګټل شي
بنده ګي یو وړیا خیز دی ، ازادي اسانه نه ده
د رښتینې پاکې مینې ، پرمخ یون ترپایه شرط دی
رسیدنه که تر بریده ، د بري اسانه نه ده
شعر له مینې او ښکلا سره ، تړون د سترګو زړه دی
ناظمي ده ویي لوبه ، شاعري اسانه نه ده
نه تش ګوتې چې لا سر هم ، ورسره قلم قلم کړې ،
د قلم د سر خیلانو ، سرخیلي اسانه نه ده !

پیښور پوهنتون ، ١٤ - ١ - ٩٦

# برند بنایست

دغه ویښه ده که خوب چې سپرلني ګلونه خاندي
لورالور په دښت وراغ کې سره ریدي ګلونه خاندي
دا د چا د مینه وړې موسکا عطر پرې راووري
چې زما د ارمانونو ګلالي ګلونه خاندي
که ښېرې د پانړیژ د ناکامۍ مې وخوړلې
په ازمون کې مې د مینې د بري ګلونه خاندي
شنه خوبونه مې د شاړو بنجرو پر غوړیدو دي
د مین ژوند پر ورشو مې سباني ګلونه خاندي
پام چې ونه کړې ګومان پرې د ګلبڼ د سرو ګلونو
دا غوټۍ غوټۍ تناکې د زړګي ګلونه خاندي

راته ښکاري چا شهیدو وینو راوړه سره رنګونه
پر سپیرو وچو رغځو ارغواني ګلونه خاندي
نورې پوې تورې خاورې د تورتمو شپو پر خولو شوې
چې د هسک په شنه چمن کې ستوریاني ګلونه خاندي
خدایزده بیا د کومې ورکې لیونۍ مینې په یاد کې
هرې غنې او اغزي ته بیدیاني ګلونه خاندي
څه نشې دې ګلې ستا په ښتني ښایست کې نغښتې
چې دې څنو کې ښکیللي زنداني ګلونه خاندي
دا دې ځان تول راسکېلی د بنو په تیرو غشو
ستا په وړاندې که پرهر پرهر زخمي ګلونه خاندي
لا هماغسې خـزان دی ، نه سپرلی شته،نه ګلونه ،
بس همستا د برند ښایست د پسرلي ګلونه خاندي !

پوهنتون ، ۲۱ - ۱ - ۹۶

# د لمر خدای دربار ته

چې وږمو د پسرلي ته ، چمنونه په خندا شي
له خوښۍ د شبنم اوښکې ، د نرګس سترګو ته راشي
سور خزان د واټونو ، شنیلي ونه زمولي نور
د هر چوني هر بلبل ، د زړه زموللی غوټۍ وا شي
چې ونه ژاړي پانړیږ نور ، د سپیدو د سپیدارونو
د چمن ناوکۍ توللي ، پلوشو ته په نڅا شي
جلوهلی کښت د میني کرم خروب په خپلو اوښکو
د ښیرازو ښیراز یو ، شنه خوبونه مې رښتیا شي
تاکستان ستا د اواز ، نوې نغمې وټوکوي بیا
نغمه ګر ورسره واره ، کاني بوټي د بیدیا شي

۷/۱۰

وسپري دي گلغوټي ، د سپورو شونډو گلکخونه
کاروانونه د وږمو دي ، د موسکاوو په ليږدا شي
نه چې تل پرې نارنجباغ ، د مازيگر د گودر تاند وي
په ښکالو مې د راتلو ستا ، پرهرونه ټول دوا شي
هغه تللې نيکمرغۍ مې د برخليك له ويجاړ کوره
لکه ستا مرور خيال بيرته ، له سره را پخلا شي
له شپينيو مړو خوبونو ، مې راويښ شي سهارونه
د ارمان په تش کالبوت کې ، را ژوندۍ د اميد ښا شي
د ذهنونو له ورشوو ، ولښتي خدايان د ځمکې
ټول د لمر د ختاى دربار ته ، په سجده او په دعا شي
دا د زړه په آينه کې مې ، ستا ياد څه کرشمې کړي ،
چې رنگين خيال مې بيا هسې ! انځورگر ستا د ښکلا شي !

اسلام آباد ، ۲۹ - ۱ - ۹۶

# د زخمونو نارنجستان

زړه مې هسې له ناخوالو ، خول ماخول دی په گوگل کې
لکه گل چې ترمې ترمې ، ورژېږي په وربل کې
خنکه وکړم په زړه کې د باران د هیلې زړی
چې د مرگ ژوبلې استازي ، راته ناست دي په مورچل کې
څو به هڅه د گلیون ، د خزانزمولو گلبڼو کړم
چې یم ښکیل له هرې خوا ، د وحشتونو په ځنگل کې
هغه زړه به څنگه نه چوي ، چې ورپېښ شي له ناکامه
د ترخو ترخو شیبو ، د ناورینونو په محفل کې
چې د سر په کټوري کې ، بې تول وینې لکه مې حسي
راته گران شو نور بیلتون په ، دوست دښمن و پردي خپل کې

د مهال له بوږنورو ، مرګڅپانو څپانونو

دی نغری مې تش له اوره ، په ساړه سمخ بورجل کې

واورین فصل یی په رګو کې ، پرنډه کړي د ژوند وینه

لا مې پاتې ده کیسه ، د اور و وینو په کابل کې

لا هغسې مې د مینې ، د خوبونو تعبیر نغښتی

ستا د تورو ګورو زلفو ، د خیالونو په ول ول کې

چی باور مې کړې په متې ، بلهاري د پاکې مینې

پریزده ! وینې مې شي تویې ، ستا د حُسن په درشل کې

چی ببنله رنګیني یې ، سرو ګلونو د چمن ته

ها نغمې را وتوکیږي ، بیا په ستوني د بلبل کې

دیر بې شمیره پسرلي ، سترګې پر لار دي ورته پاتې

چې تنکی نارنجستان مې د زخمو راشي په ګل کې

ګونډې شي چیرې جوګه مې ، دا ډالۍ ستا د منلو

اندو واند مې دي پیيلي ، هسې رنګه په یو بل کې

د تعمید غسل مې مینې ته ، د زړه په وینه ورکړ ،

دا چې کړي مې دوه ارمانه ، غځونې په غزل کې !

پیښور پوهنتون ، ۲ - ۲ - ۹۶

# لمرين تنابونه

شپه او ورځ ستا د خيالونو په تال زانګم
د خوږو خوږو يادونو په تال زانګم
هر سهار دې له لمر مخه لکه پرخه
د لمرينو تنابونو په تال زانګم
پر بستر ستا د يادونو چې ويده شم
درسته شپه ستا د خوبونو په تال زانګم
کړې شپيني تيارې مې ډوب په انديښنو کې
د سپيدو د سپيدارونو په تال زانګم
پرې تسل همستا د ناز و کرشمو کړم
که دستورو سترګکونو په تال زانګم

ستا د سرو بارخو د خیال له سره انګاره
د سرو اوښکو امیلونو په تال زانګم
چې دې برند مستو کتو نشه نشه کړم
ستا د سترګو د جامونو په تال زانګم
زګیروي ساندې مې یو مخ نغمې نغمې شوي
ستا د مینې د تالونو په تال زانګم
پرې ! شګوم مې د زندۍ د ارمانو شي
د وریښمینو مکیزونو په تال زانګم
منصوري دار و رسۍ به څه ارمانم
ستا د زلفو کمندونو په تال زانګم

مینې ژوند کړه را په برخه همدا زیاره،
چې د شعر د انځورونو په تال زانګم !

پوهنتون هاستل ، ۵-۲-۹۶

# غبرگه سندره

ښکه چې زه ستا وم ، هسې نه شومه
ستا سترګې ليمه شومه
زه دا ستا د مينې ور په ښه شومه
ستا سترګې ليمه شومه

* * *

ما تر سره نه کړه کومه ژمنه ستا
نشته پيرزوينه ستا
هيره ما د مينې کړه پالنه ستا
نشته پيرزوينه ستا

نه خو دې په خوله او نه په زړه شومه

ستا سترګې ليمه شومه

زه دا ستا د مينې ور په څه شومه

ستا سترګې ليمه شومه

* * *

ما ونه کتل دا ستا لورونو ته

پرې دې ښووم غمونو ته

نه دې کوم درمل شومه دردونو ته

پرې دې ښووم غمونو ته

نه خودې په سترګو کې رانجه شومه

ستا سترګې ليمه شومه

زه دا ستا د مينې ور په څه شومه

ستا سترګې ليمه شومه

* * *

غير غماز دې مينې نه پښېمانه کړم

ويره دې ستومانه کړم

لرې په چل ول يې زه له تا نه کړم

ويره دې ستومانه کړم

نه دا ستا پر لاره ، نه پر پله شومه

ستا سترګې ليمه شومه

زه دا ستا د مينې ور په څه شومه

ستا سترګې ليمه شومه

* * *

خدایزو درته گراني چې دیر پر یه
ستا د میني ور یه
ومې ښنه گلې درته خر یه
ستا د میني ور یه
بیا هم که څه نه وم خو یو څه شومه
ستا سترگې لیمه شومه
زه دا ستا د میني ور په څه شومه ،
ستا سترگې لیمه شومه !

شپیځای ، ۸ - ۲ - ۹٦

# د وینې مینې رنګ

د ښنو خنجر ته خاندم
هسې تیغ جوهر ته خاندم
غوټۍ وزمه زړه کې وینې
خو په خوله سحر ته خاندم
د ګل مخ په بیلتانه کې ...
لکه پرخه لمر ته خاندم
له ناخوالو د رقیبه
بیوفا دلبر ته خاندم
چې تر ښنو لاندې یې ګل شي
د زړه وینو کر ته خاندم

د سیپې کاڼي را وشوې
د سروب گوهر ته خاندم
ژاړم څه اورین ماحول به
لکه سپند مجمر ته خاندم
گڼه زیات د لیونتوب مې
چې د زړه پرهر ته خاندم
زه هغه ځانگغوغ بلبل یم
چې خپل مات وزر ته خاندم
تش له وینې مینې رنگه
بې ښکلا هنر ته خاندم

چې یــــې بول باوروي لا ،
د زیار دې باور تــه خاندم !

شپیځای ، ۹ - ۲ - ۹٦

# د سرو لاره

موږ سر تیري پتنګان ، د سرو لمبو پر لاره درومو
کفنونه مو پر غاړه ، د برچو پر لاره درومو
موږ د ګل ښایست کوکی یو ، او د اور میني اوربښتي
که سرونه مو هم ولاړ شي ، خو د سرو پر لاره درومو
چې اوښتي د پولادو او د سرپو له ویلو به
د هماغو پرمختللو ، قافلو پر لاره درومو
په ټول هوډ ولاړ پاسوالو ته ، د تورو واټنونو
چې اجل ته غاړې وځي ، د هغو پر لاره درومو
چې یې وینه رسیدلې ، تر رګ رګه د دې ځمکې
د زرغا د زیریګرو ، د ښکالو پر لاره درومو

۰۶

چې ارماني سیمفونۍ یې د سمسورو پسرلیو
د رنځو خوړلو ستونو ، د نغمو پر لاره درومو
څو ګل وسپړي غوټۍ ، غوټۍ سرې وینې مو د پښو
تر هغې به د اغزنو ، بیابانو پر لاره درومو
موږ د ځمکې د خدایانو له مرګونو تاړاکونو
د هسک خدای ته ،د لمرینو پلوشو پر لاره درومو
په لټون کې د زمولو ، خنداګانو د ګلونو
له پانړیژه لرې لرې ، د وږمو پر لاره درومو
چې په کانو د دې غرو کې یې ، لا پلونه هسې نقش دي
د دا هسې کاني کرښو ، کرښپلو پر لاره درومو
لکه پرخه درسته شپه مو ، په سحر پسې روڼلې
له تیارو په توره تیښته ، د سپیدو پر لاره درومو
چې یې ده هره شیبه ، د لاروي د ژوند په بیه
د همداسې خونړیو ، ورځو شپو پر لاره درومو
د ساحل سالو په خیر مو ، هوسایي ده هیره کړې
د توپان مرغه په شان ، د غرځپو پر لاره درومو
چې شور زوږ د استوګنو ، یې جهان وچ کوي بیا
د سبا د سبار پر لور د ، « یاریکو » پر لاره درومو
چې د ژوند جګړې له سرې ، بڼۍ راوتې ده مخسورې ،
که هر څو شو نړیوال خو ، د پښتو پر لاره درومو !

راولپنډۍ ، ۱۸ - ۲ - ۹۶

# تلسپرلیه پیښوره !

ښایسته ښاره د ګلونو
نوبهاره د ګلونو
ښکلی هاره د ګلونو
په مالیاره د ګلونو
ګلالیه پیښوره ،
تل سپرلیه پیښوره !

ته مو ننبه د نیکونو

یې تاتوبی د ننګونو

ته مو یاد د پرتمونو

ته مو ویاړ د تاریخونو

ننګیالیه پیښوره ،

تل سپرلیه پیښوره !

دی خیبر دې پر سر تاج

د ښکلا هسې معراج

ده یې زرکه که دراج

له زمرو اخلي خراج

زمریالیه پیښوره ،

تل سپرلیه پیښوره !

سم و غر دې سور و سپین دی

نوم ننبان دې پرتمین دی

چې آبا د هر یو سین دی

لر بهاند دې آباسین دی

نومیالیه پیښوره ،

تل سپرلیه پیښوره !

ته یادګار د تیر مهال یې

د شیرشاه توره او ډال یې

ته ټکلاره د ابدال یې

د پټ خلی د خوشال یې

توریالیه پیښوره ،

تل سپرلیه پیښوره !

ته یې یاد د پیر روښان
د حمید و د رحمان
د ایمل و دریا خان
د بابا فخر افغان
نوآغلیه پیښوره ،
تل سپرلیه پیښوره !

تل دې تاند چمبیل گلونه
تل سمسور رامبیل گلونه
تول امیل امیل گلونه
هر رنگ خیل په خیل گلونه
ښیالیه پیښوره ،
تل سپرلیه پیښوره !

ښایسته ښاره د گلونو
نوبهاره د گلونو
ښکلي ښاره د گلونو
په مالیاره د گلونو
گلالیه پیښوره ،
تل سپرلیه پیښوره !
گلالیه پیښوره ...

پیښور پوهنتون ، ۱۳-۳-۹۶

# د غني تلپاتې یاد

د خیبر و اشنغر له سترګو نم ولاړ
چې د مرګ کومې ته ښل پښتني برم ولاړ
چې یې ژوند له ښایست مینې و ځار کړی
څه خیالمن زوی د حوا او د ادم ولاړ
سرلښکر چې د سور پوښو د لښکر و
د پښتون ځلمي هغه ویاړ و پرتم ولاړ
چې دا خاوره یې اور کړې پر ښکیلاك وه
لړزوونکي د ماڼۍ د ښیر مینګهم ولاړ
سرې جنډې پسې کړې له ویر ماتمه
په بابا فخر افغان پسې دی هم ولاړ

لره بره پښتونخوا پسې ویرمنه
د پښتون د سر شمله هغه پرچم ولاړ
تر پرون چې رستمانو کړه ترې ویره
نن هغه اتل د وخت له زوره ستم ولاړ
څنګه ژر له ژوند جګړې نه لاس پر سر شو
په زړه سترې یې چې نور له پیچ وخم ولاړ
دی مین خو وو پر ژوند او رنګینو یې
خومره ژر ترې مرور شو او بې تم ولاړ!
د ګلاب غونډۍ ښایسته تک سور وسپین و
د مرګ غېږې ته تک زېړ لکه شړشم ولاړ
دا دې څه وکړل مرګیه لاس دې مات شه
چې له غېږې د دروغو ښېتو ، ادم ولاړ؟
په ګل مخ پسې چې ټول عمر شوګیر و
د لمر خدای په مینه هسک لکه شبنم ولاړ
ورته غوره تر هر څه د جانان سترګې
دا څه وشول چې صمد ته له صنم ولاړ؟
ده خو کړی پیمانې سره پیمان و
نه چې حورو ترې زړه یوور په څه چم ولاړ
بې ګناه ترې یو میږی هم ازار نه شو
له ګنا وو پاک پریوللی په زمزم ولاړ
که ښکاره یې ژوند خمار ، نشه ، مستي وه
خو پاک خدای ته پاک سپیڅلی ښیادم ولاړ

بې ملا شيخ يې نور خوبن ټول انسانان وو
سخت له دواړو په زړه شين له ډيره غم ولاړ
هر يو دين ورته سپېڅلی او منلی
يو زرتشت و يو بودا د وراشو ورم ولاړ
رفايل و د پيړۍ انځور گري ته
انځورگر د مصلوب زوی او مور مريم ولاړ
چې لونله روښنايي يې تورو شپو ته
د فرهنگ له هسك ها ستوری شومه دم ولاړ
قلم توري د خوشال ته يې ځل ورکړ
ستر غليم د لاروپانو د تورتم ولاړ
د جيلم جيحون ترمنځ پرې ټول گواه دي
ها سيمبول د پښتنو د زور و زغم ولاړ
چې د تورې او د سرې د سر دښمن و
ها سرتيری جنگيالی را نه يو دم ولاړ
چې بدرۍ پکې د خيال يې نڅولې
يو ملوك د رزم و بزم له ارم ولاړ
چې ټوکلې يې نغمې مضراب د گوتو
نغمه گر د پښتون ساز د زير و بم ولاړ
په مسيح دم يې ژوندي وو مړه ويېونه
سم په تگ يې له ويېونو نه هم دم ولاړ
چې د شعر شکرستان ته يې تل يون و
څه خوږ ژبی نازکخيال شاعر همدم ولاړ

هر انځور يې چې يو جام جهان نما و
يو ماني د ارژنګو ، يو جام جم ولاړ
ټول هنر يې فلسفه د ژوندانه وه
له زمان سره همغږ وهمقدم ولاړ
له ناخوالو سرغاړی د ده پیغام و
بس همدا يې وه ګناه او په دې ګرم ولاړ
تر دې وران يې نور افغان کور لیدای نه شو
له دا هسې نازغموړه درد و غم ولاړ
د ژوند ویاړ يې د نیکونو واکمني وه
ها چې ولاړه ، نو دی هم ورسره سم ولاړ
په قلم يې د قلم نړۍ کړه لاندې
که په خپله ترې پر زړه قلم قلم ولاړ
د پښتو ادب فرهنګ له قلمروه
يو سرخیل د سرخیلانو د قلم ولاړ
تر خوشال ، رحمان ، حمید او حمزه وروسته ،
هـــا غني فـــرهنګيالـــی زمـــوږ له چم ولاړ !

اوتمانزي ، ١٦ - ٣ - ٩٦

# د باغ د ناوکیو په لیمو کې

پسرلي له ناپامۍ پو کړه ، بیا ساه په غرو رغو کې
د ژوند وینه شوه بهانده ، د هستۍ په مرو رګو کې
د ګلونو د موسم ښکلونکې ، بیا کړي سینګارونه
رنګ پرنګ ښایسته ګلان زدي ، د ګلخانګو په کوځو کې
چا سپوږمۍ په خپلو څنو کې پیپلي رانه ستوري
څه ښه بریښي دا اسمان هم ، د پسرلي په رڼو شپو کې
په مستۍ نڅا ور درومي وږیځانې بخدیانیانې
بیا لوګي دي د لونګو ، او سوما په کروندو کې
چې بوږۍ د زمانې ترې ، اچولی ځانته تال دی
کومو پرنګو وینو راوړه ، بیا رنګونه په رنګو کې

دا نسیم د سباوون یې ، پټ په غوږ کې څه ویلي ،
چې موسکا ځلي د باغ ، د ناوکیو په لیمو کې ؟
له خوښۍ د هسك له سترګو ، ستوري اوښکی راوریږي
څه خدایي وحې دي نغښتې ، د ښایست په صحیفو کې
چا ګلمخې خپلې زلفې ، بیا د باد په لاس سپارلې
چې وزمې یې نه ځاییږي ، د ټول ښار په چمبیلو کې
په دربار کې د فلورا شو ، نیاز قبول د زمولو ځانګو
قافلې د رنګ وبوی له ، راغ وباغ دي په لیږدو کې
څه بیسده وزمې لونې بیا ګلبوټي د ببریو
کښته پورته په رغځیو ، په ارخیو ، سر درو کې
سپرلنیو وریځو ښلې ، ته به وایې ځنې تنده
سره ریدي چې ټوکیدلي ، په سپیرو تږو میرو کې
دې جراو د غرو لمنې ، په پلوڅو ارغوانو
سم وغر دوب د بهار په ، رنګینو او خوشبویو کې
ها تلتاندې ، تلښیرازې ، د شمشاد و سبږ ونې
ګانل شوي بیا له سره ، د رامبیلو په پسولو کې
څه بې کچه مینه وري ، پټه رازونه راڅرګند شول
د پیغلوټو ګلغوټیو ، په وږمینو مسیدو کې
په غوږو کې د وختونو ، سندریزې انګازې شي
ګونګوسي د بوراګانو ، په سمسورو ګلکڅو کې
په ناشنا غوندې چوپتیا کې ، چې شي ګل انځور د مینې
کله پټه د مینې راز شي ، په وږمونو د وږمو کې
له غریو نیولو ستونو ، د خاچونو راټوکیږي

دی جادو گوندی ویده یې ، په وربښمو د نغمو کې
که خزان دي رازمولي ، تنکۍ غوړګې د تاکونو
خو ټوپونه وهي زړونه ، له مستيه په سينو کې
د ښکلاوو پيغليستان مې ، نوې نوې غوټۍ سپړي
بيا مې لامبي سهارونه ، رڼوبيو د سپيدو کې
د زړګي پر سپيره دښته ، خوبولي پسرلي مې
راوښيري بيا د اوښکو ، د باران په ترانو کې
بيا د اندو واند باغچې مې ، پسرلي ته غاړې وځي
د نازونو د ميرمنې د راتللو په ښکالو کې
زمول باور مې هسې رنګه ، د زرغا خوبونهويني
ته به وايې کبلۍ ځري ، په ښيرازه شنه ورشو کې
نوې متره ، نوی يون مې ، غځونې کوي هسې
بيا په سترو او ستومانو ، مينه وړو ولولو کې
راسره مرور تللی ، ليونتوب بيرته پخلا شو
د تير ياد د نارنجګلو د عطرونو په څپو کې
په هينداره کې د هيلو ، مرجاني خوبونه وينم
که مې پښې د سبا ښکيل دي ، لا د شپې په زولنو کې
څه که نن د بړبوکۍ غوندې ، ګرد چورلم له خپل ځانه
لا مې ښکاري کاروان ستوري ، د سبا په ګردلو کې
لکه پرخه ورپسې مې ، چې روڼلې توره شپه وه
ها وايي له ورايه بريښي ، په سپيدارو د سپيدو کې
ورپسې مې چې خوړلې وې ، ټول عمر د زړه وينې
ومونډله هغه ورکه ، مټې ما په ويښو شپو کې

په خپل نشت لکه ګل اوښکه ، وختم د هسك جنت ته
د دې ځمکې له دوزخه ، په لمرينو پلوشو کې
تلوسو مې سترګې فرش کړې ، هرکلي ته د راتلو يې
د ناپايو سترو سترو ، واټنونو په اوږدو کې
دا د چا د پښو خاپونه ، د بيديا پر سينه نقش دي
د زړه وينې يې چې سوځي ، د غاټولو په ډيرو کې
که لا نه دی رازرغون مې ، کښت د وينو له خړوبه
خو مې سپړي ځوزګلونه ، په ويجاړو بورجلو کې
د زمان ازمون ښځې کې ، که تراوسه پولاد نه شوم
خو مې ځلي سرې سپرغۍ لا ، د خوګلن په مړو ايرو کې
چې مې ور شي د مړ ژواندو ، ارمانونو د ګليون بيا
پټ مې هغه لاله زار دی ، په زولنو پرهرو کې
پر وادي مې د شونو ، د شيرازۍ وروه راووري
سم وژم مې دی خپور ، په وينو سرو لارو کوخو کې
زه يم هغه ځلاند ستوری ، چې له لمر سره مل کيږم
نه ها سيوری چې سا ورکړم ، سم د لمر په پرېوتو کې
زه ژوندی لکه څپه يم ، پرله غنبتي يون خوځون يم
تم د ژوند هويه زما د ، ژوند جګړې په تميدو کې
زما ژوند د وينې مينې ، نه شليدونکی يو تړون دی
تيروم به يې د يار او ، يا د دار په ښکلو کې
زه هماغه بې خزانه ، شنه څيرې د دنګو غرو يم
چې مې جرړې ښخې تللې ، د پوړيو په پوړو کې
سرو غاټولو د تکل مې ، نوی لل را پيدا کړی

د سرو شوندو د خنداوو په لوټ شوو قافلو کې
زه د سرپو د ویلوب ، پر سینه کازم بیا له سره
د هستی تلپاتیوالی ، په ژوند سوزو سرو شیبو کې
ما د سر په بیه نغښتې ده ، هغه خونړۍ لاره
چې یې ډیر تری تم شوي ، په لار ورکو کږلیچو کې
خسروانو د مهال چې ، بیستون راته پولاد کړ
فرهادي مې بیا هم لار کړي ، په دې تیزو تیرو زړو کې
د محراب ممبر مورچې یې ، چې نیولې په ټګیو
دا بوتان به مې په پای کې ، هم ړاورغړي په پښو کې
دې تورمخو ماښامیانو ، که را لوټ کړې سپینې ورځې
کړې شفق مې شمې بلې ، په تورتمو ماښامو کې
چې کړي خونه هم میراته ، د مرګ ژوبلې د استازو
راته ښکاري دومره نیاو خو ، د اجل په پرستو کې
نواغلې نجونې به نورې ، ژوندۍ ښخې پر ګور نه شي
اور به ولګي د وخت ، د تور وحشت په شنو ځنګلو کې
نور پائریز به پاڼې پاڼې ، ترمې ترمې ګلبڼ نه کړي
نه به بیا تالان راګډ شي ، د چمن په شینیلو کې
د سپیڅلې ارمان لورې ، به پرې نه ږدمه هیڅکله
نور به نه نګوښې مې هیلې ، په تیارو د نهیلو کې
شي له مرګه به نادودې د ویشګرو نورې پاتې
نور به نه راڅوي زهر ، د شرابو په پیالو کې
اسویلې به د سیلیو ، یوه ورځ هم پریولل کیږي
د مړو اوښکو د زمزمو ، د چینې په زمزمو کې

له ګوبڼو د پیرۍ به ، نوري نه انګازه کيږي
سوې ساندې ، کوکې کريکې ، د اسرو په هديرو کې
رسوم به هغه ماته ، ژوند بيرۍ تر ګلکڅونو
چې رانښکيل ده له هر خوا نه ، مرګڅپانو توپانو کې
څه به ښه وو دا جهان يو ، تلښيراز شين پسرلی وای
سوزيدای نه په غرمو کې ، ريږديدای نه په سړو کې
خدايزده څه ګټې دي نغښتې ، د پاڼريژو خزانونو
د داهسې سرو ګلپاڼو ، په بيلوره رژيدو کې
چې هر ګل وشينيلی يې ، وي د چوڼو وينې بيه
څه به رنګ وي څه به بوی وي ، په دا هسې پسرلو کې
رمبوسي هوسۍ خريږي ، د شرمښو له تراه ويرې
لرې ګوښې هسك د تړو ، په شنو د رګو او وښو کې
دا ختن ختن خرمني يې را داده کړه له ځيلمې
د جنګ جهل وجنايت ، په هستې سوزو سرو لبمو کې
د رنګې لښې د کوکيو پر اوږو ترې د سيليو
څه ناتار يې راګډ کړی ، د ريديو په بڼو کې
د زخمي زخمي ګلونو ، د موسکاوو پسرلي دی ،
دا چې زيار يې هسې ستايي ، په بوللو غزلو کې !

پيښور پوهنتون ، ۳ - ٤ - ۹٦

## پوهاند دوکتور زیار او آثار یې :

**زوکړه** : ۱۳۱٤ ل ( ۱۹۳۷ م ) ، حصارک - مزینه - ننګرهار .

**زده کړه** : حصارک ، کابل ، سویس ( د پوهنو ډوکتورا ، ډیفل ) .

**دنده** : د کابل پوهنتون د پښتو ژبپوهنې او ادبپوهنې استاد ، سمدلاسه د پېښور پوهنتون د پښتو څانګې Visiting Professor .

**چاپ آثار** : پښتو ویي پوهنه ، پښتو پښویه ( ګرامر ) ، پښتو لیکلار ، پښتو شعر څنګه جوړېږي ؟ ، زنداني نغمې ، وینه او مینه ، اندو ژوند ، سوزونه او سازونه ، ګلکخونه ، ګلولې ، پښتو نوموالترنګونه ( په الماني ) ، پښتانه او وړونه ملیتونه ( ژباړه ) ، د کنیشکا د سره کوتل ډبرلیک ( ژباړه ) ، د سبرونو نڅا ، ګلوییونه ، څخواکي ، رزم وبزم ، مینه د زړه په وینه ( د پنځلسم پوړ کړکۍ ) ، سیندګی ( همهانیزونه ) ، سیندګی ( نویزونه ) پټه خزانه یوه لغوي خزانه ، زما نړۍ ، د مرجانونو څانګې .

**پلورځي** : یونیورستي بُک ایجنسي ، خیبر بازار
مکتبه امدادیه ، محله جنګي (قصه خواني) .
سید محمد کونړی او عبدالمجید (جلال آباد)

**بیه** : ۲۵ روپۍ / ۳۰۰ افغانۍ / ۵ مارکه / ۳ پونډه .

د پښتو پانګې ملګري ، پېښور ٦